د عامې روغتیا وزارت

# روغتیا اوونیزه

## پرلیکه خپرونه

### لومړی پړاو - اته ویشتمه ګڼه

۱۴۴۷-۰۹-۱۶

- د روغتیایي خدمتونو پراختیا په موخه یو شمېر مؤسسو سره هوکړې!
- یو شمېر روغتیایي مرکزونو ته د درملو او طبي وسایلو ورکړه!
- مرکز او ولایتونو کې د خصوصي روغتیایي سکتور څخه د نظارتونو دوام!
- کندوز ولایت کې د 20 تنو روږدو درملنه!
- د اته ټنه بې کیفیته او نیټې تېرو درملو او خوراکي توکو له منځه وړل!

د ویاند دفتر، اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست




## د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو مرستیال، ښاغلي مولوي حمدالله زاهد د افغانستان د صنعت، سوداګرۍ او پانګونې خونې له مدیریتي پلاوي سره لیدنه وکړه

د خوړو او درملو مرستیال، ښاغلي مولوي حمدالله زاهد نن د افغانستان د صنعت، سوداګرۍ او پانګونې خونې مدیریتي پلاوي له غړو او د هېواد له یو شمېر سوداګرو سره لیدنه وکړه او په هېواد کې یې د درملو د صنعت پراختیا او د درملو د واردولو او تولید بهیر ښه والي په اړه ورسره خبرې وکړې.

په دې لیدنه کې د صنعت، سوداګرۍ او پانګونې خونې استازو د درملو د بازار تنظیم لپاره د وروستیو اقداماتو هرکلی وکړ او د کورنیو تولیداتو د پیاوړتیا په اړه یې خپل نظرونه او وړاندیزونه شریک کړل او د پانګوالو لپاره یې د ځمکې ځانګړې کولو غوښتنه وکړه؛ ترڅو د درملو تولیدي فابریکې جوړې کړي. همدارنګه، هغوی د شرکتونو او نړیوالو بنسټونو لپاره د درملو د واردولو اړوند اداري بهیر د چټکتیا، د بربښنایي نسخو تطبیق او د درملو پر بسته بندۍ د مشخص قیمت د لیکلو لپاره د لازم اقداماتو غوښتنه هم وکړه.

د خوړو او درملو مرستیال د درملو د اړتیاوو په پوره کولو کې د خصوصي سکتور همکاري او رول مهم وباله او ویې ویل، د خوړو او درملو معینیت ژمن دی، چې بهیرونه اسانه کړي، شته ستونزو ته رسېدنه وکړي او د درملو د تولید برخه کې له پانګونې ملاتړ وکړي. همدارنګه، ښاغلي مرستیال د کابل ولایت میربچه کوټ ولسوالۍ کې د درملو د صنعتي پارک جوړولو بهیر کې د شویو پرمختګونو یادونه وکړه او زیاته یې کړه، چې د درملو د تولید په صنعت کې یې د هېواد ځان بسیاینې ته رسېدل له بنسټیزو لومړیتوبونو څخه دي.

په پای کې نوموړي د درملو تولید برخه کې د پانګونې لپاره د سوداګرو د چمتووالي او لېوالتیا هرکلی وکړ او دا یې د ملي اقتصاد د پیاوړتیا، د درملو صنعت پراختیا او د هېواد د روغتیایي اړتیاوو د دوامداره پوره کولو برخه کې مهم ګام وباله.

## Deputy Minister of Food and Drugs Meets Afghanistan Chamber of Commerce and Investment

Mawlawi Hamdullah Zahid, Deputy Minister for Food and Drugs of the Ministry of Public Health, met with members of the Afghanistan Chamber of Commerce and Investment to discuss improving medicine import, production, and pharmaceutical industry development.

During the meeting, representatives of the Chamber welcomed recent efforts to regulate the medicine market and shared proposals to strengthen domestic production. They requested land allocation for pharmaceutical factories, faster import procedures for companies and international organizations, and measures for coded prescriptions and clear price labeling on medicine packaging.

The Deputy Minister appreciated the private sector's role in meeting pharmaceutical needs and reaffirmed commitment to facilitating processes, addressing challenges, and supporting investment in medicine production. He also noted progress in establishing the pharmaceutical industrial park in Mer bacha kot, Kabul, and emphasized that self-sufficiency in medicine production is a key priority.

In conclusion, he welcomed traders' interest in investing in medicine production, calling it an important step toward strengthening the national economy, developing the pharmaceutical industry, and ensuring sustainable healthcare supply.




## د عامې روغتيا وزارت د اتاترک ماشومانو درملنې ملي او تخصصي روغتون له لوري د روان 1404 لمريز کال له پيل څخه تر دې دمه 1535 بريالي جراحي عملياتونه ترسره شوي دي

له يادو عملياتونو له ډلې 852 ستر (Major) عملياتونه
او 683 واړه(Minor)عملياتونه دي، چې د مجربو، متخصصو او مسلکي ډاکټرانو له لوري ترسره شوي دي.
دا جراحي عملياتونه د مسلکي اصولو او روغتيايي معيارونو په رعايت سره ترسره شوي، چې د ياد روغتون د تخنيکي او تخصصي ظرفيت ځرګندونه کوي.
د يادونې وړ ده، چې په همدې موده کې (14379) تنه ناروغانو ته داخل بستر (IPD) او (97909) تنه مراجعينو ته
خارج بستر(OPD)روغتيايي خدمات وړاندې شوي دي.

د دې روغتون ډاکټران د کاري تجربې، مسلکي تخصص او انساني ژمنتيا په لرلو سره تل هڅه کوي؛ څو ناروغانو ته معياري، خوندي او پر وخت روغتيايي خدمات وړاندې او د روغتيايي خدمتونو د کيفيت ښه والي په موخه اغېزمن ګامونه پورته کړي.

## در شفاخانه تخصصی و ثالثی اتا ترک در سال روان 1404، حدود 1535 عملیات جراحی با موفقیت اجرا شده است

از میان این عملیات های جراحی، 852 عملیات بزرگ (Major) و 683 عملیات کوچک(Minor) توسط داکتران مجرب، متخصص و ورزیده اجرا گردیده است. این عملیات های جراحی با رعایت اصول مسلکی و معیارهای صحی اجرا شده و بیانگر ظرفیت تخنیکی و تخصصی این شفاخانه می‌باشد.

قابل یادآوری است که در همین مدت، برای 14379 تن خدمات در بخش بستر (IPD) و برای 97909 تن خدمات
در بخش خارج بستر (OPD)این شفاخانه برای مراجعین ارائه شده است.

داکتران این شفاخانه با داشتن تجربه کاری، تخصص مسلکی و تعهد انسانی، همواره در تلاش اند تا خدمات صحی معیاری، مصئون و به‌موقع را برای بیماران ارایه نمایند و در راستای بهبود کیفیت خدمات صحی گام‌های مؤثری بردارند.

**Since the start of 1404, the Ataturk National Children Speciality Hospital under the Ministry of Public Health has performed 1,535 successful surgeries.**

Of these surgeries, 852 were major and 683 were minor, all performed by experienced, specialized, and professional doctors. These surgeries were carried out in accordance with professional standards and medical protocols, reflecting the technical and specialized capacity of the hospital.

Notably, during the same period, health services were provided to 14,379 inpatients (IPD) and 97,909 outpatients (OPD).

The hospital's doctors, drawing on their experience, professional expertise, and commitment, consistently strive to provide patients with timely, safe, and high-quality health services, while taking effective measures to improve the overall standard of care.





## د کندز ولایت د روږدو درملنې 80 بستریز روغتون څخه 20 تنه روږدي ناروغان له بشپړې درملنې وروسته خپلو کورنیو ته وسپارل شول

دغه کسان د درملنې دورې له بشپړېدو وروسته د یاد روغتون د رهبرۍ هیئت او روغتیايي کارکوونکو په شتون کې خپلو کورنیو ته وسپارل شول.

په همدې موخه جوړه شوې غونډه کې د کندز ولایت د روږدو درملنې 80 بستریز روغتون آمر د اعتیاد پرېښودو، د ارادې اهمیت، د ناروغانو په ملاتړ کې د کورنیو رول، د درملنې برخه کې د لاسته راوړنو د ساتنې او په ټولنه کې د بیا ادغام پر اړتیا خبرې وکړې او د یادو 20 تنو روغتیا ترلاسه کول یې د ټولنیزو زیانونو د کمولو په لاره کې یو اغېزمن گام وباله.

## 20 تن از افراد معتاد بعد از تداوی و صحت یابی از شفاخانه 80 بستر تداوی معتادین ولایت قندز مرخص گردیدند

این افراد بعد از دوره های تداوی، در شفاخانه 80 بستر تداوی معتادین ولایت قندز با حضورداشت هیئات رهبری و کارمندان صحی این نهاد دوباره به خانواده ها و جامعه تقدیم گردیدند.

در نشستی که به این مناسبت برگزار گردیده بود، آمر شفاخانه 80 بستر تداوی معتادین ولایت قندز در مورد ترک اعتیاد، اهمیت اراده، نقش خانواده ها در حمایت از بیماران، حفظ دستاوردهای تداوی و ضرورت ادغام مجدد در جامعه صحبت نموده و صحت‌یابی این 20 تن را یک گام مؤثر در راستای کاهش آسیب‌های اجتماعی عنوان کرد.







## د عامې روغتیا وزارت له لوري د تمویلونکو سازمانونو او ملي او نړیوالو مؤسسو استازو سره په ګډه د هیلټ کلسټر غونډه تر سره شوه

دا غونډه چې د عامې روغتیا وزارت د نړیوالو اړیکو، مرستو د همغږۍ او انسجام رئیس مولوي محمد داود منصوري او د روغتیایي پراختیا او پالیسۍ معینیت مشاور ډاکټر زاهد الله رسولي په شتون کې ترسره شوه، په کې د مهمو موضوعاتو، لکه په سرحدي سیمو کې د کډوالو ،او بېرته راستنېدونکو لپاره د روغتیايي خدمتونو ښه والي
د کډوالو د روغتیايي خدمتونو په کڅوړو یا بستو کې د پراختیا، بېړنیو حالتونو کې د روغتیا نړیوال سازمان له لوري د بنسټیزو روغتیايي خدمتونو د پراختیا او د کونړ ولایت د زلزلې د ناورین په پېښو کې د وړاندې شویو روغتیايي خدمتونو د تطبیق بیا کتنې په اړه بحث اوخبرې تر سره شوې.
سربېره پر دې، په دې غونډه کې پرېکړه وشوه چې ټولې ملي او نړیوالې اداري دې د یادو موضوعاتو په برخه کې د عامې روغتیا وزارت سره په همغږۍ اجراآت تر سره کړي.
همداراز، د غونډې په پای کې له ملي او نړیوالو مؤسسو استازو څخه د روغتیايي خدمتونو د تطبیق کوونکو په توګه غوښتنه وشوه، چې ټول ترسره شوي فعالیتونه او مهمې لاسته راوړنې په رسمي ډول د عامې روغتیا وزارت سره شریکې کړي، تر څو له یادو معلوماتو څخه د ملي ستراتیژۍ ښه کولو لپاره په اغېزمنه توګه کار واخلي او د اړتیا پر مهال د عامې روغتیا وزارت په ویبپاڼه کې خپاره شي.

## نشست مشترک وزارت صحت‌عامه و هیلت کلستر، که در آن نماینده گان تمویل کننده گان، موسسات ملی و بین المللی شامل اند برگزار شد

این نشست با حضور مولوی محمد داوود منصوری رییس هماهنگی کمک‌ها، انسجام و روابط بین الملل و داکتر زاهد الله رسولی مشاور معینیت پالیسی و انکشاف صحت وزارت صحت‌عامه، دایر گردید که در آن موضوعات ذیل از جمله، بهبود خدمات مهاجرین در مناطق سرحدی، انکشاف بسته خدمات صحی مهاجرین، توسعه خدمات اساسی صحی در واقعات عاجل از طرف سازمان صحی جهان و مرور اجراات خدمات صحی در واقعات دلخراش زلزله ولایت کنر مورد بحث قرار گرفت.

علاوه بر آن در این نشست تصمیم اتخاذ شد، تا در موارد فوق همه نهاد های ملی و بین المللی باهماهنگی وزارت صحت‌عامه اجراات نمایند.

همچنان در پایان این نشست، از نماینده گان موسسات ملی و بین المللی منحیث تطبیق کننده های خدمات صحی خواسته شد که تمام ابتکارات اجرا شده و دستاورد های مهم را به شکل رسمی با وزارت صحت‌عامه شریک نمایند، تا از آن در بهبود استراتیژی ملی استفاده موثر صورت گیرد و در صورت ضرورت در ویب سایت وزارت صحت عامه نشر گردد.

## Ministry of Public Health and Health Cluster Hold Joint Meeting with Donors and National and International Organizations

The meeting, attended by Mawlawi Mohammad Dawood Mansoori, Director of International Relations and Aid Coordination, and Dr. Zahidullah Rasooli, Advisor to the Deputy of Policy and Health Promotion of the MoPH, discussed improving health services for migrants in border areas, developing a migrant health service package, expanding essential health services in emergencies by the World Health Organization, and reviewing the health response to the Kunar Province earthquake.

Additionally, it was decided that all national and international organizations will carry out the above activities in coordination with the MoPH.

At the end of the meeting, representatives of national and international organizations were requested to formally share their key initiatives and achievements with the Ministry of Public Health, to support improvement of the national strategy and it's sharing through the Ministry's website if needed.





## د غور ولایت د روغتیایي مرکزونو آمرینو لپاره د (IMNCI) تر عنوان لاندې شپږ ورځنۍ روزنیز ټرېننګ تر سره شو

په همدې موخه جوړه شوې غونډه کې د غور ولایت د عامې روغتیا رئیس شیخ عبدالواحد حماس، په دغه ولایت کې د باران مؤسسې د دفتر رئیس ډاکتر محمد بارک او یو شمېر نورو مسؤلینو او روغتیایي کارکوونکو ګډون کړی و.

د غور د عامې روغتیا رئیس د روغتیایي کارکوونکو لپاره د ظرفیت لوړونې پروګرامونو د ترسره کولو له امله مننه وکړه او دا ډول روزنیز پروګرامونه یې د روغتیایي خدمتونو د کیفیت لوړولو او د خلکو لپاره د خدماتو وړاندې کولو په ښه والي کې یو مهم او اغېزمن ګام وباله.

هغه د غور ولایت اقتصادي وضعیت او ځانګړو چاپېریالي شرایطو ته په اشاره وویل، چې ګڼ شمېر هېوادوال د اقتصادي ستونزو له امله نه شي کولای خصوصي روغتیایي مرکزونو ته مراجعه وکړي، له همدې امله د خلکو غوښتنه او هیله له دولتي روغتیایي مرکزونو څخه ډېره لوړه ده او د معیاري خدماتو وړاندې کول د روغتیایي کارکوونکو لپاره یو اساسي مسؤلیت ګڼل کېږي.

## یک برنامه آموزشی شش روزه (IMNCI) برای آمرین مراکز صحی در ولایت غور پایان یافت

در نشستی که به این مناسبت برگزار شد، شیخ عبدالواحد حماس رئیس صحت‌عامه ولایت غور، داکتر محمد بارک رئیس دفتر باران در این ولایت و شماری دیگر از مسوولان و کارمندان صحی اشتراک داشتند.

رئیس صحت‌عامه غور ضمن ابراز قدردانی از برگزاری برنامه‌های ظرفیت‌سازی برای کارکنان صحی، این‌گونه برنامه‌ها را یک گام مهم و مؤثر در راستای ارتقاء کیفیت خدمات صحی و بهبود سطح ارائه خدمات به مردم عنوان کرد.

وی با اشاره به وضعیت اقتصادی و شرایط خاص محیطی ولایت غور اظهار داشت که، شمار زیادی از هموطنان به دلیل مشکلات اقتصادی توان مراجعه به مراکز صحی خصوصی را ندارند؛ از همین رو توقع و امید مردم از مراکز صحی دولتی بسیار بلند بوده و ارائه خدمات معیاری یک مسئولیت اساسی برای کارکنان صحی محسوب می‌شود.

## Six-Day IMNCI Training Held for Ghor Province Health Center Heads

The ceremony was attended by Abdul Wahid Hamas, Director of Public Health in Ghor, Dr. Mohammad Barak, Director of the BARAN Organization's provincial office, and several other officials and health workers.

Abdul Wahid Hamas thanked the health workers for conducting capacity-building programs and described such training as an important and effective step in improving the quality of health services and enhancing service delivery for the people.

Referring to Ghor Province's economic situation and specific environmental conditions, he said that many residents cannot go private due to financial constraints; therefore, public demand and expectations from government health facilities are high, making the provision of quality services a key responsibility for health workers.





## په مزار شریف کې له یو شمېر درملتونونو څخه نظارت ترسره شو

د بلخ ولایت عامې روغتیا ریاست د څارنې او پلټنې امریت تیم د مزار شریف ښار په 12 ناحیو کې له 38 درملتونونو د شپنۍ نوکریوالۍ څخه نظارت ترسره کړ.

د یاد نظارت په پایله کې دوه 2 درملتونونه د شپنۍ نوکریوالۍ د نه کولو له امله وتړل شول.

## از یک تعداد دواخانه ها در شهر مزار شریف نظارت صورت گرفت

تیم نظارت آمریت نظارت و بازرسی ریاست صحت‌عامه ولایت بلخ، از نوکریوالی شبانه 38 باب دواخانه در 12 ناحیه شهر مزار شریف نظارت به‌عمل آورد.

در نتیجه، این نظارت به تعداد 2 باب دواخانه به دلیل عدم اجرای نوکریوالی شبانه مسدود گردیدند.

## Several Pharmacies Inspected in Mazar-e-Sharif

The inspections were conducted by officials of the Balkh Provincial Public Health Directorate during night shifts across 12 districts of Mazar-e-Sharif, covering 38 pharmacies.

As a result of the inspections, two pharmacies were closed due to failure to comply with night-shift duty requirements.








## د عامې روغتيا وزارت له لوري د بادغيس ولايت اوسېدونکو لپاره د روغتيايي خدمتونو پياوړتيا او پراختيا په موخه له ARDHO مؤسسې سره (5،713،622) د پنځه ميليونه اووه سوه ديارلس زره شپږ سوه دوه ويشت ډالرو په ارزښت تړون لاسليک شو

دا تړون د څه باندې يو کال لپاره لاسليک شو، چې له مخې به يې د څه باندې 400 بېلا بېلو روغتيايي مرکزونو، چې په کې د ولسوالۍ کچې روغتونونه، بنسټيز او فرعي روغتيايي مرکزونه، موبايل ټيمونه، ګرځنده روغتيايي ټيمونه او نور شامل دي، د بادغيس ولايت ټولو اوسېدونکو ته لومړني او تخصصي روغتيايي خدمتونه وړاندې کېږي
د عامې روغتيا وزارت مسؤلينو وويل، ياد تړون د روغتيايي خدمتونو کيفيت لوړولو، ورته د لاسرسي زياتولو او د ولس د روغتيايي ستونزو کمولو په موخه لاسليک شو، چې په پلي کېدو سره به يې د بادغيس ولايت ټول اوسېدونکي له لومړنيو او تخصصي خدماتو برخمن او 690 تنو ته به په بېلا بېلو روغتيايي برخو کې د کار زمينه هم برابره شي.
بل لور، د ARDHO مؤسسې استازو هم ډاډ څرګند کړ، چې ياده پروژه به د څه باندې يو کال په ترڅ کې د ټولو ټاکل شويو معيارونو سره سمه پلي کړي او د خلکو روغتيايي اړتياوو پوره کولو ته به ځانګړې پاملرنه کوي.

## از سوی وزارت صحت‌عامه، به‌منظور تقویت و گسترش خدمات صحی برای باشنده گان ولایت بادغیس، با مؤسسه ARDHO قراردادی به ارزش (5’713’622) پنج میلیون و هفت صد و سیزده هزار و شش صد و بیست و دو دالر امریکایی به امضا رسید

این قرارداد برای بیشتر از یک سال امضا شده است که بر اساس آن، از طریق بیش از 400 مرکز صحی مختلف ـ شامل شفاخانه‌های سطح ولسوالی، مراکز صحی اساسی و فرعی، تیم‌های سیار و سایر خدمات صحی ـ خدمات اولیه و تخصصی برای تمام باشنده گان ولایت بادغیس ارائه خواهد شد.
مسئولان وزارت صحت‌عامه اظهار داشتند که این قرارداد به‌هدف ارتقاء کیفیت خدمات صحی، افزایش دسترسی و کاهش مشکلات صحی مردم امضا شده است. که با تطبیق آن، تمام باشنده گان ولایت بادغیس از خدمات اولیه و تخصصی مستفید شده و برای 690 تن نیز در بخش‌های مختلف صحی زمینه کار فراهم می‌شود.
از سوی‌هم، نماینده گان مؤسسه ARDHO اطمینان دادند که این پروژه را در مدت بیش از یک سال مطابق معیارهای تعیین‌شده تطبیق نموده و به رفع نیازهای صحی مردم توجه ویژه خواهند داشت

## Ministry of Public Health Signs $5,713,622 Contract with ARDHO Organization to Strengthen and Expand Health Services in Badghis Province

The agreement was signed for a period of over one year and will provide primary and specialized healthcare services to all residents of Badghis Province through more than 400 health facilities, including district hospitals, basic and comprehensive health centers, mobile teams, and other outreach services.
Officials from the Ministry of Public Health said the agreement was signed to improve the quality of healthcare services, increase access, and reduce public health issues. Once implemented, it will provide primary and specialized healthcare services to all residents of Badghis Province and create job opportunities for 690 people across various health sectors.
Representatives of the ARDHO organization expressed confidence that the project will be successfully implemented over a period of one year, in accordance with all established standards, while giving special attention to meeting the healthcare needs of the people.





## د اکمال تخصص پروګرام د پرمختګ څارنې درېیم پړاو په الشفا، عاجل ابن سینا، انتاني او د پولیسو د روغتیایي خدماتو په تخصصي روغتونونو کې ترسره شو

دا څارنه د متخصصو ټرینرانو او ټریني ډاکټرانو د ستونزو او د اکمال تخصص پروګرام د ټرېننګ تشو معلوملو په موخه د اکمال تخصص لوی ریاست اړوند عملیاتي ریاست د څارنې ټیمونو له لوري د الشفا، عاجل ابن سینا، انتاني او د پولیسو د روغتیایي خدماتو په تخصصي روغتونونو کې ترسره شوه.

په پیل کې یادو ټیمونو د دغو روغتونونو له مسؤلینو سره د اکمال تخصص پروګرام د معیاري کولو په اړه خبرې وکړې او د اکمال تخصص لوی ریاست موخو ته د رسېدو او د پروګرام د معیاري کولو پر اهمیت یې ټینګار وکړ.

سربېره پر دې، د لاندې موضوعاتو پر اهمیت هم خبرې ترسره شوې، لکه: (د کریکولم تطبیق، علمي کنفرانسونه، Logbook، د ناروغ پر بستر تدریس (Bedside Teaching)، Morning Report، Morning Visit، او Case Presentation)

؛ ځکه دغه موضوعات د ډاکټرانو د علمي کچې او مسلکي وړتیاوو په لوړولو کې اساسي رول لري.

د یادونې وړ ده، چې دا بهیر د مرکز په ټولو تخصصي روغتونونو، ولایتونو او همدارنګه په متممو خصصي مرکزونو (نظامي او خصوصي تخصصي مرکزونو) کې هم د تطبیق وړ دی.

## دور سوم نظارت از پیشبرد برنامه اکمال تخصص در شفاخانه های تخصصی الشفا، عاجل ابن سینا، انتانی و خدمات صحیه پولیس صورت گرفت

این نظارت به خاطر دریافت مشکلات ترینر متخصصین، داکتران ترینی و خلا های برنامه تریننگ اکمال تخصص، توسط تیم های نظارت ریاست عملیاتی ریاست عمومی اکمال تخصص در شفاخانه های تخصصی الشفا، عاجل ابن سینا، انتانی و خدمات صحیه پولیس صورت گرفت.

در نخست تیم های متذکره در مورد استندرد سازی برنامه اکمال تخصص با مسوولان این شفاخانه صحبت نموده و در مورد معیاری سازی برنامه اکمال تخصص و رسیدن به اهداف ریاست عمومی اکمال تخصص صحبت نمودند.

علاوه برآن در این نشست روی اهمیت موضوعات ذیل از جمله ،تطبیق کریکولوم ازقبیل کنفرانس علمی )

Logbook، bedside teaching ،Morning report،

Morning visit، Case presentation

نیز صحبت نمودند.) چون این موضوعات در ارتقاء سطح دانش و توانایی مسلکی داکتران نقش اساسی دارد.

قابل ذکراست که، این روند در تمام شفاخانه های تخصصی مرکز ولایات و مراکز تخصصی متمم (نظامی و خصوصی تخصصی) نیز قابل تطبیق می باشد.


## Third Phase of Specialty Program Monitored at Al-Shifa, Ibn-e-Sina Emergency Hospital, Antani, and Police Specialized Hospitals

Monitoring by the Operational Department under the Directorate General for Postgraduate Medical Studies, was carried out at Al-Shifa, Ibn-e-Sina Emergency Hospital, Antani, and Police Specialized Hospitals to identify challenges faced by trainers and trainee doctors and gaps in the training program.

The teams initially met with hospital officials to discuss standardizing the Specialty Program and emphasized achieving its objectives and maintaining standards.

The teams discussed the importance of topics such as curriculum implementation, scientific conferences, logbooks, bedside teaching, morning reports, morning visits, and case presentations, as these play a key role in enhancing doctors' knowledge and professional skills.

This process is applicable in all specialized hospitals, provincial facilities, and affiliated military and private centers.




## د هلمند ولایت سنګین ولسوالۍ کې 7 ټنه له نېټې تېر خوراکي توکي او مشروبات له منځه یووړل شول

یاد خوراکي توکي او مشروبات د سنګین ولسوالۍ له بازار څخه د اړوندو ادارو مسؤلینو د ګډې کمېټې له لوري راټول شوي وو او د یو شمېر مسؤلینو په شتون کې له منځه یووړل شول.

د عامې روغتیا ریاست مسؤلینو عمده پلورونکو او د خوراکي تاسیساتو مسؤلینو ته وویل، ټول تولیدات او وارداتي توکي یوازې د رسمي جواز تر ترلاسه کولو او د باوري لابراتوار له لوري د کیفیت تر معاینې وروسته بازار ته وړاندې کړئ؛ څو هېوادوالو ته معیاري، باکیفیته او خوندي توکي ورسېږي او خلک له احتمالي ناروغیو څخه وژغورل شي او ټینګار یې وکړ، که هر څوک له روغتیایي قوانینو څخه سرغړونه وکړي، له قانوني چلند ترسره به مخ شي.

## 7 تُن مواد غذایی و نوشیدنی های تاریخ‌گذشته در ولسوالی سنگین ولایت هلمند، از بین برده شد

این مواد غذایی و نوشیدنی ها از بازار ولسوالی سنگین توسط کمیته مشترک متشکل از مسئولان ادارات مربوطه جمع‌آوری شده بود و با حضور شماری از مسئولان از بین برده شد.

مسئولان ریاست صحت‌عامه به عمده‌فروشان و مسئولان تأسیسات مواد غذایی تأکید نمودند که همه تولیدات و اجناس وارداتی را تنها پس از اخذ جواز رسمی و انجام معاینات کیفیت توسط لابراتوارهای معتبر به بازار عرضه نمایند؛ تا مواد معیاری، باکیفیت و مصوون به دست شهروندان برسد و مردم از بیماری‌های احتمالی در امان بمانند.
آنان همچنان تأکید نمودند که در صورت تخطی از قوانین صحی، با متخلفان برخورد قانونی صورت خواهد گرفت.

## 7 Tons of Expired Food and Beverages Destroyed in Helmand's Sangin District

The expired food items and beverages were collected from the Sangin district market by the relevant authorities' joint committee and were destroyed in the presence of several officials.

Public Health officials instructed wholesale dealers and food establishment managers to only market products after obtaining an official permit and passing quality checks by accredited labs, ensuring citizens receive safe, high-quality goods. They warned that violations of health regulations would result in legal action.





## د کندز ولایت د روږدو درملني 80 بستریز روغتون په انګړ کې د سالم او زرغون چاپېریال په موخه د نیالګیو کېنولو پروګرام پیل شو

د کندز ولایت د روږدو درملني 80 بستریز روغتون په انګړ کې د چاپېریال ساتني او زرغونتیا فرهنګ د ودې په موخه د نیالګیو کېنولو پروګرام د یاد روغتون د ځینو مسؤلینو په شتون کې پیل شو.

په دې پروګرام کې یو شمېر زینتي نیالګي د روغتون په انګړ کې کېنول شول، چې د ناروغانو لپاره د یو سالم، تازه او هیله بښونکی چاپېریال په رامنځته کېدو کې د کارکوونکو ژمنتیا او د هغوی د مسؤلیت احساس څرګندوي.

د کندز ولایت د روږدو درملني 80 بستریز روغتون رهبرۍ د ناروغانو د روحي حالت او رواني روغتیا په ښه والي کې د سمسور او زرغون چاپېریال پر اهمیت ټینګار وکړ او دا اقدام یې د چاپېریال او روغتیایي خدمتونو په ښه والي کې یو مثبت ګام وباله او زیاته یې کړه، هیله ده چې د دې ډول پروګرامونو په دوام سره به روغتیایي مرکزونو کې سالم او زرغون چاپېریال رامنځته شي.

## به خاطر یک محیط سبز و سالم برنامه نهال شانی در محوطه شفاخانه 80 بستر تداوی معتادین ولایت قندز آغاز شد

به منظور ترویج فرهنگ حفاظت از محیط زیست و سرسبز، برنامه نهال‌شانی در محوطه شفاخانه 80 بستر تداوی معتادین ولایت قندز با اشتراک بعضی از مسوولان این شفاخانه برگزار گردید.

در این برنامه، تعدادی نهال‌های زینتی در محوطه این شفاخانه غرس گردید، که نشان‌دهنده تعهد و احساس مسئولیت کارکنان در قبال ایجاد محیط سالم، باطراوت و امیدبخش برای بیماران می‌باشد.

رهبری شفاخانه 80 بستر تداوی معتادین قندز با تأکید بر اهمیت فضای سبز در بهبود روحیه و سلامت روانی بیماران، این اقدام را یک گام مثبت در راستای بهبود محیط تداوی و خدمات صحی عنوان نموده افزودند که امید است با ادامه چنین برنامه‌ها، شاهد فضای سبزتر و محیط سالم‌تر در این مرکز صحی باشیم.










## Medical Supplies Worth 155,000 Afghanis Donated to Kunar Provincial Hospital

These supplies, worth 155,000 Afghanis, were handed over to the Hemodialysis Unit of Asadabad Provincial Hospital by the Jalala Assistance Foundation to the Directorate of Public Health in Kunar province.

Dr. Shahabuddin, a representative of the DoPH in Kunar province, expressed gratitude to the officials of the Assistance Foundation for their support, stating that these supplies would play a significant role in improving the quality of health services.

## د کونړ ولايتي روغتون سره د 155’000 افغانيو په ارزښت د طبي مصرفي توکو مرسته وشوه

دغه توکي د جلاله خيريه بنسټ له لوري د اسعدآباد ولايتي روغتون د هيموډياليز څانګې د خدماتو لا ښه والي په موخه د کونړ ولايت عامې روغتيا رياست ته وسپارل شول.

د کونړ عامې روغتيا رياست استازي، ډاکتر شهاب الدين د ياد خيريه بنسټ له مسؤلينو څخه د دغې مرستې له امله مننه وکړه او ويې ويل، ياد توکي به د روغتيايي خدمتونو ښه والي کې اغېزمن رول ادا کړي.






## د کونړ ولایتي روغتون له لوري د روان 1404 لمریز کال له پیل څخه تر دې دمه (5323) بریالي جراحي عملیاتونه ترسره شوي دي

له یادو عملیاتونو له ډلې (4605) لوی عملیاتونه او (718) واړه عملیاتونه دي، چې د مجربو، متخصصو او مسلکي ډاکترانو له لوري ترسره شوي دي.

دا جراحي عملیاتونه د مسلکي اصولو او روغتیایي معیارونو په رعایت سره ترسره شوي، چې د یاد روغتون د تخنیکي او تخصصي ظرفیت ښکارندوی کوي.

د یادونې وړ ده، چې په همدې موده کې (26946) تنه ناروغانو ته داخل بستر او (225796) تنه مراجعینو ته خارج بستر روغتیایي خدمات وړاندې شوي دي.

د دې روغتون ډاکټران د کاري تجربې، مسلکي تخصص او انساني ژمنتیا په لرلو سره تل هڅه کوي؛ څو ناروغانو ته معیاري، خوندي او پر وخت روغتیایي خدمات وړاندې او د روغتیایي خدمتونو د کیفیت ښه والي په موخه اغېزمن ګامونه پورته کړي.

## در شفاخانه ولایتی کنر در سال روان 1404، حدود (5323) عملیات جراحی با موفقیت اجرا شده است

از میان این عملیات های جراحی، 4605 عملیات بزرگ و 718 عملیات کوچک توسط داکتران مجرب، متخصص و ورزیده اجرا گردیده است.

این عملیات های جراحی با رعایت اصول مسلکی و معیارهای صحی اجرا شده و بیانگر ظرفیت تخنیکی و تخصصی این شفاخانه می‌باشد.

قابل یادآوری است که در همین مدت، برای 26946 تن خدمات در بخش بستر و برای 225796 تن خدمات در بخش خارج بستر این شفاخانه برای مراجعین ارائه شده است.

داکتران این شفاخانه با داشتن تجربه کاری، تخصص مسلکی و تعهد انسانی، همواره در تلاش اند تا خدمات صحی معیاری، مصئون و به‌موقع را برای بیماران ارایه نمایند و در راستای بهبود کیفیت خدمات صحی گام‌های مؤثری بردارند.

## The Kunar Provincial Hospital has successfully performed 5,323 surgical operations from the beginning of the current solar year 1404 up to the present.

Of these procedures, 4,605 were major surgeries and 718 were minor surgeries, all carried out by seasoned, specialized, and professional doctors.

These surgical operations were conducted in accordance with professional principles and healthcare standards, demonstrating the hospital's strong technical and specialized capacity.

During the same period, 26,946 patients received inpatient services, while 225,796 were provided with outpatient healthcare services.

With their professional expertise, practical experience, and strong humanitarian commitment, the hospital's doctors continuously strive to deliver standardized, safe, and timely healthcare services to patients and to take effective steps toward improving the quality of healthcare services.



## د لغمان روغتیايي علومو انستیټیوټ سره د 185’060 افغانیو په ارزښت د طبي او تدریسي توکو مرسته وشوه

یاده مرسته د عامې روغتیا وزارت د پوهاند غضنفر روغتیايي علومو انستیټیوټ له لوري وشوه، چې موخه یې د لغمان ولایت د نوي تأسیس شوي روغتیايي علومو انستیټیوټ د زده کړو بهیر پیاوړتیا، د زده کړیالانو ظرفیت لوړول او د روغتیايي خدمتونو پراختیا ده.

د پوهاند غضنفر روغتیايي علومو انستیټیوټ رئیس، دوکتور محمد قاسم عادل، یاد توکي د زده کړو بهیر پیاوړتیا او د روغتیايي اسانتیاوو ښه والي لپاره مهم وبلل او زیاته یې کړه، دغه مرسته به د زده کړیالانو د علمي ظرفیت په لوړولو او د خدماتو پراختیا کې مهم رول ولوبوي.

## به ارزش 185’060 افغانی مواد طبی و آموزشی به انستیتوت علوم صحی ولایت لغمان کمک صورت گرفت

این کمک از سوی انستیتوت علوم صحی پوهاند غضنفر وزارت صحت‌عامه صورت گرفت که، هدف آن تقویت روند آموزشی، ارتقاء ظرفیت محصلان و گسترش خدمات صحی در انستیتوت تازه‌تأسیس علوم صحی لغمان می‌باشد.

داکتر محمد قاسم عادل، رئیس انستیتوت علوم صحی پوهاند غضنفر، این اقلام را برای تقویت روند آموزشی و بهبود تسهیلات صحی مهم دانسته افزود، که این کمک نقش مؤثری در ارتقاء ظرفیت علمی محصلان و توسعه خدمات ایفا خواهد کرد.

## Medical and Educational Supplies Worth 185,060 Afghanis Donated to Laghman Institute of Health Sciences

The donation was made by the Professor Ghazanfar Institute of Health Sciences of the Ministry of Public Health to strengthen education at the newly established Health Sciences Institute in Laghman, enhance student capacity, and expand health services.

Dr. Mohammad Qasim Adil, director of the Professor Ghazanfar Institute of Health Sciences, called the donated items vital for strengthening education and improving health facilities. He added that this donation will enhance students' academic capacity and expand services.




## سرپل ولایت کې یو ټن له نېټې تېر خوراکي توکي او درمل له منځه یووړل شول


دغه خوراکي توکي او درمل د سرپل عامې روغتیا ریاست د څارنې او پلټنې مسؤلینو له لوري د یاد ولایت له بېلابېلو سیمو څخه راټول شوي وو او د اړوندو ادارو د استازو په شتون کې له منځه یووړل شول.

## یک تُن مواد خوراکی و ادویه تاریخ گذشته در ولایت سرپل از بین برده شد

این مواد که از سوی مسوولان نظارت و بررسی ریاست صحت عامه از نقاط مختلف این ولایت جمع‌آوری شده بود، در حضور نماینده‌گان مربوطه از بین برده شد

## Sar-e-Pol Province Destroys One Ton of Expired Food and Medicines

These food items and medicines were collected from various areas of Sar-e-Pol Province by the monitoring and inspection officials of the Sar-e-Pol Public Health Directorate and were destroyed in the presence of representatives from the relevant authorities.











**د عامې روغتیا وزارت له لوري د کابل، ننګرهار، کاپیسا، بدخشان، تخار، کندز، بغلان، بلخ، جوزجان، فاریاب، هرات، کندهار، هلمند، سمنګان، غور، بامیان، پکتیا، خوست او فراه ولایتونو اوسېدونکو لپاره د روغتیایي خدمتونو پیاوړتیا او پراختیا په موخه له MSIA مؤسسې سره (7،731،126) د اووه میلیونه اووه سوه یو دېرش زره یو سل شپږ ویشت ډالرو په ارزښت تړون لاسلیک شو**

**از سوی وزارت صحت‌عامه، به منظور تقویت و گسترش خدمات صحی برای باشنده‌گان ولایات کابل، ننگرهار، کاپیسا، بدخشان، تخار، کندز، بغلان، بلخ، جوزجان، فاریاب، هرات، قندهار، هلمند، سمنگان، غور، بامیان، پکتیا، خوست و فراه، با مؤسسه MSIA قراردادی به ارزش 7’731’126 (هفت میلیون و هفت‌صد و سی‌ویک هزار و یک‌صد و بیست‌وشش) دالر امریکایی به امضا رسید**

دا تړون د پنځه کلونو لپاره لاسلیک شو، چې له مخې به یې د یادو ولایتونو نږدې 600 زره تنه اوسېدونکو ته روغتیایي خدمتونه وړاندې کېږي.
د عامې روغتیا وزارت مسؤلینو وویل، یاد تړون د روغتیایي خدمتونو کیفیت لوړولو، ورته د لاسرسي زیاتولو او د ولس د روغتیایي ستونزو کمولو په موخه لاسلیک شو، چې په پلي کېدو سره به یې د یادو ولایتونو نږدې شپږ سوه زره اوسېدونکي له لومړنیو او تخصصي خدماتو برخمن او 404 تنو ته به په بېلا بېلو روغتیایي برخو کې د کار زمینه هم برابره شي.
بل لور، د MSIA مؤسسې استازو هم ډاډ څرګند کړ، چې یاده پروژه به د پنځو کلونو په ترڅ کې له ټولو ټاکل شویو معیارونو سره سمه پلي کړي او د خلکو روغتیایي اړتیاوو پوره کولو ته به ځانګړې پاملرنه کوي.

این قرارداد به مدت پنج سال به امضا رسیده است. که بر اساس آن، برای نزدیک به 600 هزار تن از باشنده گان ولایات یادشده خدمات صحی ارائه خواهد شد.
مسوولان وزارت صحت‌عامه گفتند، که این قرارداد به هدف ارتقاء کیفیت خدمات صحی، افزایش دسترسی به آن و کاهش مشکلات صحی مردم به امضا رسیده است، که با تطبیق این پروژه، نزدیک به شش‌صد هزار تن از باشنده گان این ولایات از خدمات اولیه و تخصصی صحی مستفید شده و برای 404 تن نیز در بخش‌های مختلف صحی زمینه کار فراهم خواهد شد.
از سوی‌هم، نماینده‌گان مؤسسه MSIA نیز اطمینان دادند که این پروژه را در جریان پنج سال مطابق معیارهای تعیین شده تطبیق نموده و به تأمین نیازهای صحی مردم توجه ویژه خواهند داشت.

**Ministry of Public Health Signs $7,731,126 Agreement with MSIA Organization to Strengthen and Expand Health Services in Kabul, Nangarhar, Kapisa, Badakhshan, Takhar, Kunduz, Baghlan, Balkh, Jawzjan, Faryab, Herat, Kandahar, Helmand, Samangan, Ghor, Bamyan, Paktia, Khost, and Farah provinces.**

The agreement was signed for five years, under which nearly 600,000 residents of the aforementioned provinces will receive healthcare services. Officials from the Ministry of Public Health said the agreement was signed to improve the quality of healthcare services, increase access, and reduce public health challenges. Once implemented, it will provide primary and specialized healthcare services to nearly 600,000 residents of the aforementioned provinces and create job opportunities for 404 people across various health sectors.

Representatives of MSIA organization expressed confidence that the project will be successfully implemented over a period of five years, in accordance with all established standards, while giving special attention to meeting the healthcare needs of the people.






## د سمنگان ولایتي روغتون عاجل ځانگې ته 26 قلمه اړین درمل وسپارل شول

دا مرسته په سمنگان ولایت کې د کاناډا اسلامي رفاه دفتر له لوري وشوه، چې ارزښت یې له یو نیم میلیون افغانیو څخه زیات دی او د یاد ولایت عامې روغتیا ریاست مسؤلینو ته وسپارل شوه.

یاد درمل د سمنگان عامې روغتیا رئیس مولوي لطف الله حبیبي، په شتون کې د ولایتي روغتون امریت ته وسپارل شول؛ ترڅو د اړتیا له مخې د عاجل ځانگې په برخه کې ترې گټه واخیستل شي.

د سمنگان عامې روغتیا رئیس د یاد خیریه بنسټ له دوامدارو همکاریو څخه مننه وکړه او دا اقدام یې د روغتیایي خدمتونو، په ځانگړې توگه د عاجل ځانگې د پیاوړتیا لپاره یو مهم گام وباله او د دغو درملو پر شفاف او اغېزمن مصرف یې ټینگار وکړ.

## 26 قلم ادویه مورد نیاز بخش عاجل شفاخانه ولایتی سمنگان تسلیم داده شد

این کمک از سوی دفتر رفاه اسلامی کانادا مقیم ولایت سمنگان، که ارزش آن بیش از یک و نیم میلیون افغانی، می شود صورت گرفت و به مسوولان ریاست صحت‌عامه ولایت سمنگان تسلیم داده شد.

این اقلام با حضور مولوی لطف‌الله حبیبی رئیس صحت عامه سمنگان، به گونه رسمی به آمریت شفاخانه ولایتی سپرده شد تا مطابق نیازمندی‌ها در بخش عاجل به مصرف برسند.

رئیس صحت‌عامه ولایت سمنگان ضمن قدردانی از همکاری‌های دوامدار این نهاد خیریه، این اقدام را گام مهمی در راستای بهبود خدمات صحی، به ویژه در بخش عاجل، دانسته و بر مصرف شفاف و مؤثر آن تأکید کرد.

## 26 Types of Essential Medicines Delivered to Samangan Provincial Hospital Emergency Department

This aid was provided by the Islamic Relief Canada office in Samangan province, valued at over 1.5 million Afghanis, and was handed over to the officials of the Provincial Public Health Directorate.

The medicines were handed over to the provincial hospital department in the presence of Samangan Public Health Director Mawlawi Lutfullah Habibi for use in the emergency department as needed.

The Samangan Public Health Director thanked the charity organization for its support, called the initiative an important step for strengthening health services—especially the emergency department—and stressed the transparent and effective use of the medicines.

## د عامې روغتيا وزارت د معالجوي طب لوی رياست له لوري د مرکزي روغتونونو سرطبيبانو او د بيړنيو څانگو مسؤلينو ته د
## «Disaster and Mass Casualty Management»
## تر سرليک لاندې روزنيز ټرېننگ وکړل شو

په همدې موخه جوړه شوې غونډه کې د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د معالجوي طب لوی رئيس ډاکټر وحدت الکوزي، د تخصصي او ثالثي روغتونونو رئيس ډاکټر امين الله مومند، يو شمېر نورو مسؤلينو، د مرکزي روغتونونو سرطبيبانو او د بيړنيو څانگو مسؤلينو شتون درلود.

د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال د مرکزي روغتونونو سرطبيبانو او د بيړنيو څانگو مسؤلينو ته وويل، چې د بيړنيو پېښو د کـــــنترول لپاره بشپړ چمتوالی ونيسئ؛ تر څو د عاجل ناروغانو پر وخت درملنه وشــي.
دغه راز، د معالجوي طب لوی رئيس د مرکزي روغتونونو سرطبيبانو او د بيړنيو څانگو مسؤلينو ته د هغوی د مسلکي پوهې لوړولو په موخــــه د «Disaster and Mass Casualty Management» تـر سرليک لاندې يو ځانگړی پريزنټيشن وړاندې کړ؛ څو د لويو پېښو او ډله ييزو تلفاتو پر مهال د همغږۍ، چټک غبرگون، اغېزمن مديريت او معياري خدماتو وړاندې کولو برخه کې د هغوی ظرفيتونه لا لوړ شي.

## از سوی ریاست عمومی طب معالجوی وزارت صحت عامه، برای سرطبیبان شفاخانه‌های مرکزی و مسوولان بخش‌های عاجل، تحت عنوان
## (Disaster and Mass Casualty Management)
## یک برنامه آموزشی برگزار شد

در نشستی که به همین منظور برگزار شد، محترم مولوی عبدالولی حقانی، معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت عامه، داکتر وحدت الکوزی رئیس عمومی طب معالجوی، داکتر امین‌الله مومند رئیس شفاخانه‌های تخصصی و ثالثی، شماری از مسوولان دیگر، سرطبیبان شفاخانه‌های مرکزی و مسوولان بخش‌های عاجل اشتراک داشتند.


محترم معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت عامه به سرطبیبان شفاخانه‌های مرکزی و مسوولان بخش‌های عاجل گفت: برای کنترول حوادث اضطراری آماده‌گی کامل داشته باشند، تا بیماران عاجل به‌موقع و به‌گونه لازم تحت تداوی قرار گیرند.

همچنان، رئیس عمومی طب معالجوی به هدف ارتقاء دانش مسلکی سرطبیبان شفاخانه‌های مرکزی و مسوولان بخش‌های عاجل، یک پریزنتیشن ویژه تحت عنوان «مدیریت حوادث و تلفات دسته‌جمعی» ارائه کرد، تا ظرفیت‌های آنان در زمینه هماهنگی، واکنش سریع، مدیریت مؤثر و ارائه خدمات معیاری در هنگام حوادث بزرگ و تلفات دسته‌جمعی بیشتر تقویت گردد.

## The Directorate General of Curative Medicine of the MoPH conducted a training on 'Disaster and Mass Casualty Management' for head doctors of central hospitals and heads of emergency departments.

The meeting was attended by the Deputy Minister for Health Services of the MoPH, Mawlawi Abdul Wali Haqqani; the Director General of Curative Medicine, Dr. Wahdat Alokozai; the Director of Specialized and Tertiary Hospitals, Dr. Aminullah Momand; several other officials; head doctors of central hospitals; and heads of emergency departments.
Mawlawi Abdul Wali Haqqani urged chief doctors of central hospitals and emergency department officials to maintain full preparedness to ensure timely treatment of emergency patients.
The Director of Curative Medicine gave a presentation on 'Disaster and Mass Casualty Management' to head doctors and emergency heads to boost their skills in coordination, rapid response, and effective management during major disasters.





## د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د درملو عمده پلورونکو د اتحادیې له مسؤولینو سره د دوی د غوښتنو او ستونزو د حل په موخه لیدنه تر سره کړه

په دې لیدنه کې چې د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو مرستیال ښاغلي مولوي حمدالله زاهد او یو شمیر نورو مسؤولینو شتون درلود، د درملو د نرخونو پر کنټرول، د خوړو او درملو د قاچاق د مخنیوي قانون د غوره تطبیق، د احتکار څخه د مخنیوي او په بازار کې د باکیفیته او په مناسب قیمت د درملو په شتون او مدیریت خبرې تر سره شوې.

ښاغلي وزیر ولسونو ته د باکیفیته او په مناسب قیمت د درملو عرضه کول د ټولو ګډ مسؤولیت وباله او په وینا یې په دې برخه کې باید ټول ګډ مسؤولیت اداء کړي.

ښاغلي مرستیال مولوي حمدالله زاهد، د درملو عمده پلورونکو د اتحادیې د غوښتنو اړوند وویل: هڅه مو دا ده چې ستاسې او ولس اړتیاوو ته رسیدنه وکړو او په وینا یې په دې برخه کې به خپلې هڅې جاري وساتي.

## محترم مولوی نور جلال جلالی، وزیر صحت عامه ا.ا.ا، با مسوولان اتحادیه عمده‌فروشان ادویه در مورد رسیده‌گی به خواست‌ها و مشکلات آنان در دفتر کاری‌اش دیدار کرد

در این دیدار که مولوی حمدالله زاهد، معین غذا و ادویه وزارت صحت عامه و شماری از مسوولان دیگر نیز حضور داشتند، در مورد کنترول قیمت ادویه، تطبیق بهتر قانون جلوگیری از قاچاق غذا و ادویه، جلوگیری از احتکار و تأمین و مدیریت ادویه باکیفیت و با قیمت مناسب در بازار بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

محترم وزیر صحت عامه عرضه ادویه باکیفیت و با قیمت مناسب به مردم را مسئولیت مشترک همه دانست و گفت در این بخش باید همه به‌گونه مشترک مسئولیت خود را ادا کنند.

همچنان، محترم مولوی حمد الله زاهد معین غذا و ادویه در مورد خواست‌های اتحادیه عمده‌فروشان ادویه گفت، که تلاش آنان بر این است تا به نیازهای مردم رسیده‌گی شود و تأکید کرد که در این زمینه تلاش‌های خود را ادامه خواهند داد.

**In his official office, Mawlawi Noor Jalal Jalali, Minister of Public Health of the IEA, met with officials of the Pharmaceutical Wholesalers' Association to discuss their concerns.**

At the meeting, attended by Mawlawi Hamdullah Zahid, Deputy Minister for Food and Drugs of the MoPH, and other officials, discussions focused on controlling medicine prices, enforcing anti-smuggling laws, preventing hoarding, and ensuring the availability of quality medicines at reasonable prices.

His Excellency Jalali described the provision of quality medicines at reasonable prices to the public as a shared responsibility and stated that everyone must fulfill their joint duty in this regard.

Mawlawi Hamdullah Zahid said they are working to meet the needs of both the association and the public and will continue their efforts in this regard



## جوزجان ولایت کې شاوخوا یو نیم ټنه بې کیفیته خوراکي توکي راټول او د له منځه وړلو په موخه د یاد ولایت د عامې روغتیا ریاست ګدام ته ولېږدول شول

د جوزجان ولایت د عامې روغتیا ریاست د څارنې او پلټنې امریت او د روغتیايي قوانینو د تطبیق مدیریت ټیمونو له لوري له 10 سوپر مارکیټونو، 5 درملتونونو او د خوراکي توکو 20 پلورنځیو او 3 ګدامونو څخه نظارت ترسره شو.

د دې نظارت پایله کې 43 عدده کینګ کاکو او 11 قلمه له نېټې تېر خوراکي توکي، چې یو نیم ټنه کېدل، راټول او د له منځه وړلو په موخه د جوزجان ولایت د عامې روغتیا ریاست ګدام ته ولېږدول شول.

## حدود یک و نیم تُن مواد غذایی بی‌کیفت، در ولایت جوزجان جمع آوری و به خاطر هدر نمودن به گدام صحت‌عامه این ولایت انتقال داده شد.

تیم‌های نظارتی آمریت نظارت و بازرسی و مدیریت تطبیق از قوانین صحي ریاست صحت‌عامه ولایت جوزجان، از 10 سوپرمارکیت، 3 گدام مواد غذایی ، 5 دواخانه و 20 باب خوراکه فروشی در این ولایت نظارت نمودند.

در نتیجه این نظارت، به تعداد 43 عدد کاکو کینگ و 11 قلم مواد غذایی تاریخ گذشته که حدود یک ونیم تُن می شوند جمع آوری گردیده و در دیپوی ریاست صحت‌عامه ولایت جوزجان تخلیه و مهرلاک گردید.

**Around 1.5 tons of substandard food items were collected in Jowzjan province and transferred to the Provincial Public Health Directorate's warehouse for proper disposal.**

Monitoring was conducted by the Inspection and Monitoring and Health Regulations Enforcement teams of Jowzjan Provincial Public Health Directorate on 10 supermarkets, 5 pharmacies, 20 food outlets, and 3 warehouses.

As a result of this inspection, 43 items of King Coco and 11 units of other expired food products, totaling 1.5 tons, were collected and sent to the Jowzjan Provincial Public Health Directorate's warehouse for disposal.







## د هلمند ولایت عامې روغتیا ریاست اړوند د روږدو درملنې سل بستریز روغتون کې د 42 تنه تداوي شویو روږدو د حرفوي زده کړو فراغت مراسم ترسره شول

یاد کسان د درې میاشتو لپاره د حرفوي زده کړو پروګرام کې شامل شوي وو او اوس یې د زده کړو بهیر په بریالیتوب سره پای ته رسېدلی دی، چې له ډلې یې 22 تنه د موټرسایکل ترمیم برخه کې او 20 تنه د سولري سیستمونو د نصب او ترمیم په برخه کې له زده کړو فارغ شول.

د یادونې وړ ده، چې هر فارغ ته د فراغت رسمي سند سربېره د خپل مسلک اړوند کاري کیټونه هم ورکړل شول؛ څو وکولای شي په راتلونکي کې له خپلو مهارتونو څخه په روزمره ژوند کې ګټه واخلي.

هېره دې نه وي، چې تر دې وړاندې هم 178 تنه له حرفوي زده کړو څخه فارغ شوي وو.

## مراسم فراغت 42 تن از معتادین تداوی‌شده از برنامه آموزش‌های حرفه‌ای، در شفاخانه 100 بستر تداوی معتادین ریاست صحت‌عامه ولایت هلمند، برگزار شد

این افراد به مدت سه ماه در برنامه آموزش‌های حرفه‌ای شامل بودند و اکنون روند آموزشی‌شان را با موفقیت به پایان رسانیده‌اند. که از میان آنان، 22 تن در بخش ترمیم موترسایکل و 20 تن دیگر در بخش نصب و ترمیم سیستم‌های سولری فارغ گردیدند.

قابل یادآوری است که برای هر فرد فارغ شده، علاوه بر سند رسمی فراغت، کیت‌های کاری مرتبط با رشته تخصصی‌شان نیز توزیع شد تا بتوانند در آینده از مهارت‌های کسب‌شده در زنده گی روزمره استفاده نمایند.

همچنان پیش از این نیز 178 تن دیگر از برنامه‌های آموزش حرفه‌ای این مرکز فارغ شده بودند.

**A graduation ceremony for vocational training was held at the 100-bed Drug Rehabilitation Hospital under the Helmand Public Health Directorate for 42 recovering patients.**

These individuals had participated in a three-month vocational training program, which they have now successfully completed. Among them, 22 graduated in motorcycle repair, and 20 others in the installation and repair of solar systems.

In addition to an official graduation certificate, each graduate was also provided with work kits related to their profession, enabling them to apply their skills in daily life.

Notably, 178 individuals had previously graduated from vocational training programs.





## بغلان ولایت کې له یو شمېر درملتونونو او روغتیایي کتنځایونو څخه د باکیفیته روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو په موخه نظارت ترسره شو

د بغلان عامې روغتیا ریاست د څارنې او پلټنې امریت ګډو ټیمونو د مرکزي بغلان ولسوالۍ (نوي ښار او زاړه ښار) کې له 5 روغتیایي کتنځایونو، 4 درملتونونو، 3 یوناني درملتونونو، یوې حجامت خونې، د درملو او روغتیایي محصولاتو یوه عمده پلورنځي او 2 لابراتوارونو څخه نظارت ترسره کړ.

د یاد نظارت په پایله کې 4 درملتونونه، 5 روغتیایي کتنځایونه، یوه حجامت خونه او یو لابراتوار د قانوني اسنادو نه شتون، غیر معیاري فعالیت، د مناسب ځای نه لرلو او له روغتیایي قوانینو څخه د سرغړونې له امله وتړل شول.

همدارنګه، د نظارت پر مهال له 3 یوناني درملتونونو څخه لیکلې ژمنې واخیستل شوې؛ څو د عامې روغتیا وزارت له طرزالعمل سره سم د خپلو فعالیتونو د تنظیم او برابرولو لپاره په 10 ورځو کې لازم اقدامات ترسره کړي.

## به خاطرعرضه خدمات صحی با کیفیت، از یک تعداد دواخانه ها و معاینه خانه ها در ولایت بغلان نظارت صورت گرفت

تیم های مختلط آمریت نظارت و باز رسی ریاست صحت‌عامه ولایت بغلان، از 5 باب معاینه خانه، 4 دواخانه، 3 باب دواخانه یونانی، 1 دارالحجامه، 1 باب عمده فروشی ادویه و محصولات صحی و 2 باب لابراتوار در ولسوالی بغلان مرکزی واقع شهر جدید و شهر قدیم بغلان نظارت نمودند.

در نتیجه این نظارت4 دواخانه، 5 معاینه خانه، 1 باب دارالحجامه غیر معیاری و 1 باب لابرتوار به خاطر نداشتن اسناد، غیرمعیاری بودن، نداشتن مکان مناسب و تخلف از قوانین صحی مسدود گردیدند.

همچنان در این نظارت، از سه باب یونانی فروشی نیز تعهد کتبی گرفته شد تا در مدت 10 روز به خاطر آماده سازی فعالیت های خویش مطابق طرزالعمل وزارت صحت‌عامه خود را عیار نمایند.

## Inspections Conducted on Pharmacies and Clinics in Baghlan to Ensure Quality Health Services

The Inspection and Monitoring Department of Baghlan Provincial Public Health Directorate inspected 5 clinics, 4 pharmacies, 3 traditional medicine pharmacies, 1 cupping center, 1 wholesale medicine and health products establishment, and 2 laboratories in Pol-e-Khumri District, covering both the new and old cities of Baghlan.

Following the inspection, 4 pharmacies, 5 clinics, 1 cupping center, and 1 laboratory were closed for lacking documents, substandard conditions, and health regulation violations.

During the inspection, written commitments were also obtained from three traditional medicine pharmacies to comply with the Ministry of Public Health's guidelines and bring their operations into line within 10 days.




## کابل ښار کې له یو شمېر عمده پلورنځیو څخه د باکیفیته خوراکي توکو وړاندې کولو په موخه نظارت ترسره شو

د عامې روغتیا وزارت د خوراکي توکو د خطر تحلیل، سرویلانس او معیارونو د تدوین ریاست اړوند د خطر تحلیل او سرویلانس امریت د متخصصینو ټیم د کابل ښار په شپږمه او اوومه ناحیه کې له 13 سوپر مارکیټونو او عمده پلورنځیو څخه نظارت تر سره کړ.

د دې نظارت پایله کې 47 قلمه له نېټې تېر خوراکي توکي او همدارنګه یو مقدار کینګ ککاو، چې د کیفیت د تثبیت لابراتوار له لوري غیر معیاري اعلان شوی وو، راټول او د له منځه وړلو په موخه ټاکل شوي ځای ته ولېږدول شول.

## به خاطر بهبود و عرضه مواد غذایی با کیفیت، از یک تعداد عمده فروشی ها در شهر کابل نظارت صورت گرفت

تیم کارشناسان آمریت تحلیل و سرویلانس مواد غذایی، ریاست تحلیل خطر، سرویلانس مواد غذایی و تدوین معیارها وزارت صحت‌عامه، از 13 سوپر مارکیت و عمده فروشی ها در ناحیه ششم و هفتم شهر کابل نظارت نمودند.

در نتیجه این نظارت به تعداد 47 قلم محصول غذایی تاریخ گذشته و همچنان مقداری از محصول غذایی king Coco که توسط ریاست آزمایشگاه تثبیت کیفیت، غیر معیاری تثبیت گردیده بود، جمع آوری گردیده و جهت هدر نمودن به مکان مشخص پلان شده انتقال داده شد

## Several wholesale stores in Kabul city were inspected to ensure the supply of quality food products.

A team of specialists from the Risk Analysis and Surveillance Unit of the Directorate of Food Surveillance, Risk Analysis, and Standards Development under the Ministry of Public Health conducted inspections of 13 supermarkets and wholesale stores in Districts 6 and 7 of Kabul city.

As a result of this inspection, 47 expired food items, along with a quantity of King Coco declared substandard by the Quality Control Laboratory, were collected and sent to a designated location for disposal.





## سمنگان ولایت کې د دوه میلیونه افغانیو په لگښت یو روغتیایي مرکز جوړ او په فعالیت یې پیل وکړ

دغه روغتیایي مرکز چې د «رباطک» په سیمه کې موقعیت لري، د سمنگان ولایت عامې روغتیا ریاست د استازو، قومي مشرانو او د سیمې د یو شمېر اوسېدونکو په شتون کې یې پرانیسته ترسره او گټې اخیستنې ته وسپارل شو.
دغه پروژه د سمنگان عامې روغتیا ریاست مسؤلینو د هلو ځلو په پایله کې د دوه میلیونه افغانیو په ټولیز لگښت د ACTED دفتر له لوري د ناروې هېواد په مالي ملاتړ تطبیق شوې ده. په یاده پروژه کې د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو لپاره د پنځو معیاري کانکسونو او د احاطې د دیوال جوړول شامل دي.
د دې پروژې په بشپړېدو او پرانیستلو سره د سیمې شاوخوا 18 زره اوسېدونکو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول بنسټیزو روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي زمینه برابره شوې ده.
د سمنگان عامې روغتیا ریاست استازي د دغه مرکز پرانیسته په لرې پرتو سیمو کې د روغتیایي خدمتونو ښه والي برخه کې یو مهم گام وباله او د روغتیایي سیستم پیاوړتیا او خلکو ته د لا زیاتو اسانتیاوو برابرولو لپاره یې د دغه ډول هڅو پر دوام ټینگار وکړ.

## یک باب مرکز صحی به ارزش دو میلیون افغانی در مربوطات ولایت سمنگان افتتاح و به فعالیت آغاز کرد

این مرکز صحی که در ساحه «رباطک» موقعیت دارد در مراسمی با حضور نماینده ریاست صحت‌عامه ولایت سمنگان، بزرگان قومی، متنفذین محلی و جمعی از باشنده گان محل افتتاح و رسماً به بهره برداری سپرده شد.
این پروژه به اثر سعی وتلاش مسوولان وزارت صحت‌عامه و ریاست صحت‌عامه ولایت سمنگان، به هزینه مجموعی دو میلیون افغانی از سوی دفتر اکتید (ACTED) با حمایت مالی کشور ناروی تطبیق گردیده است. پروژه متذکره شامل ایجاد پنج باب کانکس معیاری جهت ارائه خدمات صحی و اعمار دیوار احاطوی می‌باشد که با تکمیل و افتتاح آن، زمینه دسترسی به خدمات صحی اساسی برای حدود 18000 تن از باشنده گان محل به‌گونه مستقیم و غیرمستقیم فراهم گردیده است.
نماینده ریاست صحت‌عامه ولایت سمنگان در این مراسم، افتتاح این مرکز را گام مهمی در راستای بهبود عرضه خدمات صحی در مناطق دوردست عنوان نموده و بر ادامه تلاش‌ها جهت تقویت سیستم صحی و فراهم‌سازی تسهیلات بیشتر برای مردم تأکید کرد.

## Health Center Built at Cost of Two Million Afghanis Opens in Samangan Province

The health center, located in the Rabatak area, was inaugurated and handed over for use in the presence of representatives from the Public Health Directorate of Samangan Province, community elders, and several local residents.
This project, implemented by the ACTED with financial support from Norway at a cost of two million Afghanis, was completed through the efforts of the Samangan Province Public Health Directorate. It included five standard health wards and an enclosing wall. The project now provides around 18,000 residents with access to essential health services.
Representatives of the Samangan Province Public Health Directorate called the center's inauguration a key step in improving health services in remote areas and stressed continuing such efforts to strengthen the health system and expand access for people.




## د باميان ولايتي روغتون له لوري د روان 1404 لمريز كال له پيل څخه تر دې دمه 1957 بريالي جراحي عملياتونه ترسره شوي دي

له يادو عملياتونو له ډلې 369 ستر عملياتونه او 1588 واړه عملياتونه دي، چې د مجربو، متخصصو او مسلكي ډاكټرانو له لوري ترسره شوي دي.

دا جراحي عملياتونه د مسلكي اصولو او روغتيايي معيارونو په رعايت سره ترسره شوي، چې د ياد روغتون د تخنيكي او تخصصي ظرفيت ځرګندونه كوي.

د يادونې وړ ده، چې په همدې موده كې (11788) تنه ناروغانو ته داخل بستر او (205128) تنه مراجعينو ته خارج بستر روغتيايي خدمات وړاندې شوي دي.

د دې روغتون ډاكټران د كاري تجربې، مسلكي تخصص او انساني ژمنتيا په لرلو سره تل هڅه كوي؛ څو ناروغانو ته معياري، خوندي او پر وخت روغتيايي خدمات وړاندې او د روغتيايي خدمتونو د كيفيت ښه والي په موخه اغېزمن ګامونه پورته كړي.

## در شفاخانه ولایتی بامیان در سال روان 1404، حدود 1957 عملیات جراحی با موفقیت اجرا شده است

از میان این عملیات های جراحی، 369 عملیات بزرگ و 1588 عملیات کوچک توسط داکتران مجرب، متخصص و ورزیده اجرا گردیده است.

این عملیات های جراحی با رعایت اصول مسلکی و معیارهای صحی اجرا شده و بیانگر ظرفیت تخنیکی و تخصصی این شفاخانه می‌باشد.

قابل یادآوری است که در همین مدت، برای 11788 تن خدمات در بخش بسترو برای 205128 تن خدمات در بخش خارج بستر این شفاخانه برای مراجعین ارائه شده است.

داکتران این شفاخانه با داشتن تجربه کاری، تخصص مسلکی و تعهد انسانی، همواره در تلاش اند تا خدمات صحی معیاری، مصئون و به‌موقع را برای بیماران ارایه نمایند و در راستای بهبود کیفیت خدمات صحی گام‌های مؤثری بردارند.

## The Bamyan Provincial Hospital has successfully performed 1,957 surgical operations from the beginning of the current solar year 1404 up to the present.

Of these procedures, 369 were major surgeries and 1588 were minor surgeries, all carried out by seasoned, specialized, and professional doctors.

These surgical operations were conducted in accordance with professional principles and healthcare standards, demonstrating the hospital's strong technical and specialized capacity.

During the same period, 11,788 patients received inpatient services, while 205,128 patients were provided with outpatient healthcare services.

With their professional expertise, practical experience, and strong humanitarian commitment, the hospital's doctors continuously strive to deliver standardized, safe, and timely healthcare services to patients and to take effective steps toward improving the quality of healthcare services.